# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه‌شنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۲۵مه | د ۲۰۲۱ د جون ۱۵مه | ۷۳۳مه ګڼه


# د جګړو شدت او تکتیکي شاتګونه؛

## وکیلان: د امنیتي ادارو د کمزوري مدیریت له کبله پراخې سیمې د طالبانو لاس ته لوېدلې



۳

### د ولسوالیو سقوط؛ نیوکې او بې ګټې ځواب

۲ مخ

### د چین د جه جیانګ د ګډې شتمنۍ نمونوي سیمې د ابادۍ پر لار چټک ګامونه پورته کوي

۲ مخ

### پوتین له بایډن څه غواړي؟

۳ مخ

## قریشي: په افغانستان کې د ناامنیو مسوولیت دې پر پاکستان نه اچول کېږي

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي ویلي چې کابل باید پر پاکستان باندې د تورونو د لګولو لړۍ بنده کړي او په وینا یې، باید په افغانستان کې د ناامنیو مسوولیت پر پاکستان وانه اچول شي.

قریشي د افغانستان-پاکستان په دوه اړخیزه غونډه کې ویلي: «هغوی ته ولسمشر غني او مل پلاوي ته بخت او د ښه لیدنې کتنې هیله کوم، خو پرېږدئ چې مخکې له مخکې ووایم چې که واشنګټن ته د تللو هدف د افغانستان سولې د ټولو نیمګړتیاوو او نه پرمختګ په وجه د پاکستان د مسوول ګڼلو او ملامتولو د نوې لوبې پیل وي، دا سفر به هېڅ مرسته ونه کړي.»

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې ولسمشر غني به په راتلونکو څو ورځو کې د امریکا متحده ایالاتو ته سفر وکړي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان د سولې په بهیر کې د پاکستان مشارکت ګډ مسوولیت ګڼلی او ویلي یې دي چې اسلام آباد په دغه بهیر کې خپله ونډه په صادقانه او مخلصانه توګه ترسره کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني څه موده مخکې د جرمني له شپیګل ورځپاڼې سره په مرکې کې پاکستان له طالبانو څخه په سیستماتیک ملاتړ تورن کړ او ویې ویل چې طالبان له پاکستان څخه مالي او لوجستیکي ملاتړ ترلاسه کوي او په هماغه هېواد کې جلب او جذب کېږي.

## مکنزي: د ځواکونو له ایستلو وروسته له افغان ځواکونو سره هوایي مرستې نه کوو




۲ مخ


## څېره

۴ مخ


## ژاک درېدا

ژاک درېدا فرانسوي لیکوال، فیلسوف او ادبي نقاد و. هغه د وخت په حاکم ادبي وضعیت او فلسفه نیوکه کولې. هغه نیوکه یوازې د اصلاح پا خاطر کوله او ښې بدیلې لارې یې وړاندې کولې.



## کرنې وزارت: په پکتیا کې د نږدې ۱۴ میلیونو افغانیو په ارزښت د اوبولګولو شبکې چارې پیل شوې



کرنې وزارت وایي چې د پکتیا په مرکز ګردیز اړوند حبیب کلا کې د جوی کلان د اوبولګولو شبکې د جوړولو چارې پیل شوې.

د یادې شبکې د بنسټ ډبرې اېښودو په مراسمو کې د پکتیا والي محمد حلیم فدایي وویل، چې د حبیب کلا د جوی کلان د اوبولګولو دغه کانال د ۴۱۰۰ مترو په اوږوالي د کرنې وزارت اړوند د کرنې او خوړو خوندیتوب ببړنۍ پروژې له خوا د ۱۴ میلیونه او ۳۳۴ زره افغانیو په ارزښت د یوه کال په موده کې جوړېږي، چې په جوړېدو سره به یې ۱۰۷۰ جریبه کرنیزه ځمکه خړوبه شي.

په همدې حال کې د پکتیا د کرنې رییس محمد دین مومند وویل، چې د کانال د جوړېدو پر مهال به د سیمې سلګونو اوسېدونکو ته کاري زمینې هم برابرې شي. د مومند په خبره، په یاده سیمه کې به له ۲۰ تر ۳۰ سلنه د اوبو ضایعاتو مخه ونیول شي او بزګران به د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو په برخه کې هوسا شي.

## مجروح: ۳۲۰ میلیون دالر برای خرید واکسین کرونا اختصاص یافته است



سرپرست وزارت صحت عامه کشور در نشست استجوابی دیروز ولسی جرگه اعلام کرده است که ۳۲۰ میلیون دالر برای خرید واکسین کرونا اختصاص یافته است و در صورت شناسایی منبع معتبر فروش، خریداری خواهد شد.

وحید مجروح، سرپرست وزارت صحت عامه، گفت که با این پول ۴۱ تا ۴۲ میلیون دوز واکسین کرونا خریداری خواهد شد. او افزود که ارگ ریاست جمهوری در همکاری با اداره تدارکات ملی در حال بررسی منابع معتبر برای خرید واکسین کرونا است.


طبق اعلام مجروح خبر کمک یک هزار بالون آکسیجن توسط اوزبیکستان سو تفاهم بوده است و بالون‌های کمک شده خالی بود. اوزبیکستان چند روز پیش یک هزار بالون آکسیجن کمک کرد.

سرپرست وزارت صحت عامه اما می‌گوید که با کشورهای ایران، اوزبیکستان و تاجیکستان تفاهم‌نامه امضا شده است و به زودی مشکل آکسیجن حل خواهد شد.

به گفته سرپرست وزارت صحت عامه، نیاز بیماران موج سوم کرونا به آکسیجن نسبت به موج اول و دوم بیش‌تر است چنان‌چه دستگاه‌هایی که در گذشته به ۲۵۰ نفر کافی بود حالا تنها می‌تواند به ۳۵ نفر آکسیجن تأمین کنند.

وحید مجروح افزوده است که سه هزار و ۵۰۰ بالون آکسیجن از ایران خریداری شده است که تا دو روز دیگر به کشور وارد و به ولایات مرکزی و شمالی توزیع خواهد شد.


## تعمیر فروشی



یک تعمیر تجارتی به مساحت {316.25 متر مربع} واقع مارکیت میوه {ناحیه 4، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

## سرلیکنه

# د ولسواليو سقوط؛ نيوکې او بې ګټې ځواب

د ولسمشر لومړي مرستيال امرالله صالح ويلي چې طالبانو د يوې باريکې لارې په جوړولو پرمختګ کړی دی او په وينا يې دغې ډلې ته به نيول شوې سيمې په هديره بدلې شي. نوموړي پر خپله فيسبوک پاڼه ليکلي، ځينې سيمې چې طالبان د سقوط نوم ورکوي، د يوې باريکې لارې په جوړولو پرمختګ دی او هغه څوک چې له طالبانو سره په جګړه کې بلد دي، پوهېږي چې يادې سيمې به د طالبانو لپاره په ګور بدلې شي.
امرالله صالح دا څرګندونې په وروستيو کې د ولسواليو د پرلهپسې سقوط په تړاو پر حکومت انتقادونو ته په ځواب کې کوي.
په تېره نږدې يوه نيمه مياشت کې طالبانو تر درېشو پورې ولسوالۍ نيولې دي، چې حکومت يې تکتيکي په شاتګ ګڼي. په دغو ولسواليو کې سلګونه امنيتي ځواکونه طالبانو ته يا مخامخ او يا هم د سيمه‌ييزو مشرانو په منځګړيتوب تسليم شوي چې بيا وروسته هغوی خوشې کړي دي. په ډېرو ولسواليو کې امنيتي ځواکونو ته درنه مرګ‌ژوبله هم اوښتې او تر څنګ يې طالبانو ته درنې او سپکې وسلې، تجهيزات، هامو ټانګونه او رنجر هم لاسته ورغلي دي.
د ولسواليو دغه سقوط بې سارې دی او له همدې امله شور او زوږ جوړ شوی دی. دا چې «د يوې باريکې لارې په جوړولو پرمختګ کول» څه مانا لري، ښايي يوازې امرالله صالح او څه نور ملګري يې پرې پوه شي؛ خو خلکويني چې رښتيا هم طالبانو ولسوالۍ نيولې دي او دا لړۍ لا هم روانه ده. دا ولسوالۍ په ټول افغانستان کې دي او ان د کابل په دروازه کې دوې ولسوالۍ (نرخ او جلريز) هم طالبانو نيولې دي. خلک دې ته نه ګوري چې دا په باريکه لاره پرمختګ دی او که په پلنه لاره، بلکې خلک نتيجې ته ګوري او په نتيجه کې ويني چې ولسوالۍ سقوط کېږي، امنيتي ځواکونه يا سيمه پرېږدي، يا تسليمېږي او يا هم مرګ ژوبله ور اوړي، وسلې، تجهيزات او سيمې د طالبانو لاس ته لوېږي، نو ځکه غږ پورته کوي، ځينې يې اندېښنه ښيي او ځينې يې پر حکومت تونديږ او سختې نيوکې کوي.
تر اوسه پورې دا ولسوالۍ لويه برخه لا هم له طالبانو سره دي او بېرته نه دي نيول شوې. دا چې امرالله صالح وايي چې دا سيمې به د طالبانو په هديره بدلې شي، بيا هم ستونزه نه حل کېږي. لومړی خو داسې نه ښکاري چې دا ولسوالۍ به ټولې بېرته دولت ونيسي، خو که دا کار وشي، بيا يې هم مانا دا نه ده چې هېڅ ستونزې نه دي پېښې شوې. که بيا هم ونيول شي، نه به د سقوط پر مهال د سرتېرو پراخه مرګ‌ژوبله جبران کړي او نه به هم حکومت ته بېرته هغه وسلې او تجهيزات په لاس ورشي چې د طالبانو لاس ته لوېدلي دي.
پر دې بنسټ امرالله صالح چې څه وايي يوازې انتقادونو ته يو بې ګټې ځواب دی، چې نه ستونزه حل کولی شي، نه د ولسواليو سقوط توجيه کولی شي، نه اوښتي زيانونه جبرانولی شي او نه هم د هغه ګواښ مخنيوی کولی شي چې له دې امله رامنځ ته شوی دی.

# د چين د جه جيانګ د ګډې شتمنۍ نمونوي سيمې د ابادۍ پر لار چټک ګامونه پورته کوي

ليکنه: **ياسمين**؛ د چين نړيوالې راډيو خبرياله


د چين د کمونېست ګوند مرکزي کمېټې او دولتي شورا د جون په لسمه نېټه ((په جه جيانګ ولايت کې د لوړ کيفيت له پرمختګ او د ګډې شتمنۍ نمونوي سيمې له ابادۍ څخه ملاتړ)) مهم سند خپور کړ.
په دغه سند کې د جه جيانګ ولايت د نمونوي سيمې د ابادۍ په اړه ځلور ستراتيژيکې موخې او د شپږو برخو مهم اقدامات ټاکل شوي او دا موخه پکې وړاندې شوې، چې جه جيانګ ولايت به تر ۲۰۲۵ کال پورې د دغې نمونوي سيمې د ابادۍ څرګندې لاسته راوړنې ولري او تر ۲۰۳۵ کال پورې به د لوړ کيفيت د پرمختګ لا ستر برياليتوبونه تر لاسه او ګډه شتمني به را منځته کړي.
د نوموړي سند د خپرېدو بنسټيزه زمينه څه ده؟
ګډه شتمني د سوسياليزم اصلي غوښتنه او د خلکو هيله ده. په چين کې د اصلاحاتو او ورخلاصون له تطبيق وروسته په تېره بيا د چين کمونېست ګوند له اتلسم ملي کانګرس راهيسې د رييس شي جين پينګ په مشرۍ د نوموړي ګوند د مرکزي کمېټې په مرکزيت د ګوند غړي او د هېواد د بېلابېلو قومونو خلکو د ګډې شتمنۍ د رامنځته کولو پر لوري نه ستومانه کېدونکې کوښښونه کړي او د هراړخيزې شتمنې ټولنې د ابادۍ په برخه کې يې ستر برياليتوبونه تر لاسه کړي دي، چې دغه کار د دغه هېواد د پرمختګ په نوې مرحله کې د ګډې شتمنۍ د ابادۍ لپاره کلک بنسټ برابر کړی دی. چين د عصري سوسياليستيک هېواد د هراړخيزې ابادۍ پر لوري نوی سفر پيل کړی او د ټولو خلکو د ګډې شتمنۍ موخې ته يې لوړ ځای ورکړی او د دغې موخې د بشپړولو لپاره هلې ځلې کوي، څو خلک له ګډې شتمنۍ څخه رښتينې ګټې واخلي.
ولې جه جيانګ ولايت د ګډې شتمنۍ د نمونوي سيمې په توګه ټاکل شوی؟
لومړی لامل يې دا دی، چې د جه جيانګ ولايت وضعيت نمونوي شکل لري. په دغه ولايت کې د خاورې مساحت او نفوس اندازې مناسبې دي، د غرونو، اوبو او کروندو په ګډون ډېرې برابرې سرچينې لري، د ښارونو او علاقه‌داريو نفوس يې د کليوالو سيمو له نفوس سره کابو برابر دی.
دويم لامل يې دا دی، چې جه جيانګ ولايت د نمونوي سيمې د ابادۍ ښه بنسټ او غوره والی لري او د شتمنۍ کچه يې لوړه ده. په ۲۰۲۰ کال کې د دغه ولايت د توليداتو عمومي ارزښت ۶۴۶۰ ميلياردو يوانو ته رسيده. تېر کال د جه جيانګ ولايت د هر اوسېدونکي منځنی عايدات د هېواد د منځني شمېر له ۱۶۳ فيصدو سره برابر و. بل دا چې جه جيانګ ولايت برابر پرمختګ کوي. د بېلګې په توګه، په دغه ولايت کې د ښاري او کليوالو سيمو اوسېدونکو د عايداتو تر منځ فاصله د هېواد د نورو سيمو په پرتله ډېره کمه ده.
درېيم لامل يې دا دی، چې جه جيانګ ولايت د اصلاحاتو او نوښت ټينګه اراده لري. دغه ولايت د اصلاحاتو په برخه کې ډېرې ګټورې تجربې لري او همدغه اراده او تجربې به يې د نمونوي سيمې په جوړونه کې اغېزمن رول ولوبوي.
جه جيانګ ولايت د ګډې شتمنۍ نمونوي سيمې د ابادۍ پر لاره ګامونه پورته کوي.
جه جيانګ ولايت د ياد سند له مخې د ګډې شتمنۍ د ابادۍ لپاره د ګټور ميکانېزم او ټګلارو سيستم د جوړولو په هڅه کې دی. نوموړی ولايت د اقتصاد د باکيفيته پرمختګ، د عايداتو د وېش نظام د اصلاحاتو، له ښو عامو خدمتونو څخه د خلکو برخمنتيا، د ښارونو او کليو د برابر او همغږي پرمختګ، د سوسياليزم د پياوړي کلتور د پرمختګ، د ايکولوژيکي تمدن د ابادۍ او د ټولنې د اداري په اوو برخو کې ۵۲ تدبيرونه طرحه کړي دي.
دغه ولايت به د اجنډا له مخې د لوړ کيفيت پرمختګ او د ګډې شتمنۍ نمونوي سيمې د ابادۍ موخې ته ورسېږي او هر کال به نوښتونه رامنځته کړي، په راتلونکو پنځو کلونو کې به ستر برياليتوبونه تر لاسه او پنځلس کاله وروسته به دغه نمونوي سيمه پوره جوړه شي.

# اوچا: په ننګرهار او لغمان کې د جګړو له کبله ۳۵زره کسان بې ځايه شوي



د بشري مرستو د همغږۍ په چارو کې د ملګرو ملتونو اداره يا اوچا وايي، چې په لغمان او ننګرهار کې د وروستيو جګړو له امله ۳۵زره کسان له خپلو سيمو بېځايه شوي دي.
د دغه دفتر د معلوماتو پر بنسټ، په وروستيو اونيو کې په لغمان کې ۲۳زره کسان او په ننګرهار ولايت کې ۱۲زره کسان د جګړو او تاوتريخوالي له امله له خپلو سيمو نورو ته کډه شوي دي. اوچا په خپل راپور کې ويلي چې ياد کسان د لغمان ولايت له اليشنګ او علينګار ولسواليو څخه مرکز مهترلام ته بېځايه شوي دي.
ياد دفتر همدارنګه زياته کړې، چې د ننګرهار ولايت په اچين، پچيراګام، سره رود او هسکې مېنې ولسواليو څخه بيا زرګونه کسان د جلال اباد ښار، خوګيانو او مومند درې ولسواليو ته بېځايه شوي دي.
د اوچا اداري د معلوماتو پر بنسټ، اوسمهال د لغمان او ننګرهار ولايت په ځينو ولسواليو کې د افغان سرتېرو او طالبانو ترمنځ جګړه روانه ده چې په وينا يې، دوام يې خلک له ګڼو ستونزو سره مخ کړي دي. د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري ويلي چې له يادو بېځايه شوو کسانو څخه ۲۴زره يې بېړنيو مرستو ته اړتيا لري.
اوچا په کونړ او نورستان ولايتونو کې هم د تاوتريخوالي زياتېدو په اړه اندېښنه ښودلې او زياته کړې ده چې د کونړ ولايت کې د تاوتريخوالي زياتېدو له امله د يوه سيمه ييز روغتون چارې هم درېدلې دي.

# مکنزي: د ځواکونو له ايستلو وروسته له افغان ځواکونو سره هوايي مرستې نه کوو




د امريکا د مرکزي قوماندانۍ مشر جنرال فرانک مکنزي وايي چې له افغانستان څخه به په بشپړه توګه د سرتېرو له وتلو وروسته امريکا له افغان ځواکونو سره هوايي مرستې نه کوي.
مکنزي ويلي چې د ځواکونو له وتلو وروسته به په افغانستان کې د ترهګرۍ پر ضد عمليات هم محدودېږي او بريدونه به يوازې هغه وخت کېږي، چې په امريکا او متحدينو باندې له پلان شويو بريدونو خبرشي. نوموړي زياته کړې: «له افغانستان څخه د ټولو سرتېرو تر وتلو وروسته که موږ خبر شو چې څوک په امريکا، د امريکا په ائتلافيانو او متحدينو باندې بريد کول غواړي، موږ به هوايي بريد کوو او همدا به په افغانستان کې له وتلو وروسته زموږ د هر بريد دليل وي».
تر دې وړاندې نيويارک ټايمز ورځپاڼې راپور خپور کړی و چې پنټاګون د اجازې په غوښتلو غور کوي، چې که د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته کابل او يا کوم بل لوی ښار د طالبانو لاس ته د لوېدو له خطر سره مخ شي، دوی به له افغان ځواکونو سره هوايي مرسته وکړي.
خو ښاغلي مکنزي دا هم ويلي، چې له افغان ځواکونو سره به مجازي مشورې او د هغوی د وسايلو د ترميم په برخو کې مرستې کېږي او د پوځي وسايلو پرزې به د جوړولو لپاره افغانستان ته وړل کېږي او راوړل کېږي. د هغه په خبره: «له شک پرته چې دا کار به د وسايلو د ترميم بهير ټکنی کوي او ورسره به له افغان ځواکونو سره ډېرې هوايي مرستې نه کېږي، خطر به ډېر لوی وي، ډېر لوی.»
دا په داسې حال کې ده چې د امريکا ولسمشر جوبايډن د مې په مياشت کې له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د ايستلو بهير پيل کړی او ټاکل شوې چې د روان ۲۰۲۱ز کال تر سپټمبر مياشتې به بشپړ شي.
د امريکا د مرکزي قوماندانۍ مشر فرانک مکنزي له افغانستان څخه د عسکرو د ايستلو بهير يوه لويه پېښه ګڼلې چې د هغه قوماندانۍ، د امريکا د ټرانسپورټ قوماندانۍ او ډېرې نورې سرچينې يې بوختې کړې دي.
بلخوا په امريکا کې ځينې پوځي کارپوهان او پخواني جنرالان اندېښنه لري چې د افغانستان يوازې پرېښودل به په هغه هېواد کې شل کلنې لاسته راوړنې په سيند لاهو کړي او دا هېواد به يو ځل بيا د ترهګرو ډلو لپاره په امن ځای بدل شي.

# پوتین له بایډن څه غواړي؟

سارا رنېزپورډ؛ بي‌بي‌سي- مسکو

د جون په ۱۶مه جینوا کې د ولادیمیر پوتین او جو بایډن تر منځ ناسته به یوه دوستانه لیدنه نه وي، ځکه چې روسیې په دې وروستیو کې د امریکا متحده ایالتونو نوم د «ناملګرو هېوادونو» رسمي لېست ته غورځولی دی او دواړې خواوې خپلمنځي اړیکې تر ټولو په ټیټه کچه کې بولي او دمګړۍ د یو بل هېواد کې سفیران هم نه لري.

د روسیې جګپوړي چارواکي د کریمیا له الحاق رانیولې د امریکا ټاکنو کې تر لاسوهنو د بېلابېلو موضوعاتو له کبله د امریکا تر بندیزونو لاندې دي.

بلخوا دوه پخواني امریکایي پوځیان بیا د جاسوسۍ په تور د روسیې زندانونو کې د ۱٦ کلن بند شپې سبا کوي.

پر دې ټولو سربېره، د امریکا ولسمشر جو بایډن د تېرې مارچ میاشتې یوه مرکه کې خپل روسي سیال ولادیمیر پوتین ته د «وژونکي» خطاب وکړ او کرملین ماڼۍ یې هم په ځواب کې ښاغلي بایډن ته ورته کلمات وکارول.

له دغو ټولو لوړو ژورو سره سره اوس ټاکل شوې چې د نړۍ د دغو ځواکمنو هېوادونو مشران په لومړي ځل مخامخ سره وګوري.

روسیه کې ځیني کسان ان همدا لیدنه په خپل ذات کې یوه لاسته راوړنه ګڼي.

**د دریځ موضوع**

مسکو کې د ‹ار ای اې سي› فکري مرکز رییس اندرې کورتونوف وایي: «دا ناسته له سېمبولیکه اړخه مهمه ده. دا روسیه له امریکا سره یوه کتار کې دروي، د پوتین لپاره سمبولیزم بې اهمیته نه دی.»

د کرملین ماڼۍ لپاره د دې غونډې اهمیت په دې کې نغښتی چې واک ته د جو بایډن د رسېدو لومړیو میاشتو کې، د هغه د لومړني رسمي بهرني سفر او پخپله د نوموړي په غوښتنه تر سره کېږي.

دا به یوه لنډه او په کومه مشخصه سکالو پورې محدوده هم نه، بلکې یوه بشپړه او کامله ناسته وي.

ولادیمیر پوتین سره د چهارشنبې ورځې یو په یو لیدنه اروپا ته د جو بایډن د اته ورځني بوخت سفر چې ټاکلې وه پرون «دوشنبه» بروکسل کې د ناټو له مشرانو سره وګوري، مهمه برخه جوړوي.

سیاسي شنونکې لیلیه شېوڅوا وایي: «پوتین قطعاً غواړي چې د امریکا د ولسمشر برابر وي. غواړي چې شرایطو ته یې درناوی وشي. پوتین غواړي خپله ځواکمنتیا وښیي او تر چا کم رانشي.»

**تاریخ او هیلې**

دې ناستې ته د جینوا انتخاب په ۱۹۸۵ کال کې د سړې جګړې پر مهال د دغو هېوادونو د هغه مهال مشرانو «رونالډ ریګن او میخایل ګورباچوف» د لیدنې یاد تازه کوي.

خو د دې احتمال کم دی چې دا لیدنه دې د شخصي اړیکو او هم د سیاسي تودوخې له اړخه هغې ته ورته وګڼل شي.

اوسنۍ سپینه ماڼۍ وایي، ټوله موخه یې دا ده چې روسیې سره «باثباته» او «د وړاندوینې وړ» اړیکې ولري. خو پوتین په ۲۰۱۴ کال کریمیا ته د ځواکونو له استولو او خپلې خاورې پورې د دې ټاپو وزمې له تړلو راهیسې تل په ګومان او اټکلونو کې د خلکو د ساتلو تګلاره خپله کړې ده.

د امریکا او روسیې د اړیکو ځوړ هم له همدې ځایه پیل شو.

اغلې شېوڅوا وایي، د دې لیدنې «تر ټولو عملي موخه به دا وي چې د یو بل ‹سړې کرښې› مالومې او همدا راز دا پوهاوی رامنځته کړي چې له پاڼ د راګرځېدو یوازینۍ لار خبرې اترې دي.»

نوموړې زیاتوي: «که خبرو ته نه کېني، روسیه به نوره هم له وړاندوینې ووځي.»

**پایله څه کېدای شي؟**

د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین روانه اونۍ د دغه هېواد دولتي ټلویزیون ته وویل، د اټومي وسلو د کنټرول له خبرو رانیولې تر سیمه ییزو شخړو، سوریې، لیبیا او د نړۍ تر اقلیم پورې ډېر داسې موضوعات شته چې له امریکا سره «ګډ کار پرې کولی شو».

هغه زیاته کړه: «که پر دغو مسایلو د ګډ کار لپاره د میکانېزو پر جوړولو بریالي شوو، نو فکر کوم بیا ویلی شو چې دا ناسته بې ګټې نه وه.»

ځینې روسان پر دې باور دي چې د دواړو هېوادونو تر منځ د «ډیپلوماتیکو جګړو» اوربند هم ممکن دی.

امریکا وروستیو کلونو کې لسګونه روسي ډیپلوماتان له خپلې خاورې شړلي او دوه ډیپلوماتیک تاسیسات یې ورتړلي دي.

بلخوا روسیه کې بیا د امریکا پر ډیپلوماتیکو استازولیو د ځایي کارکوونکو د ګومارلو بندیز لګېدونکی دی چې په دغه کار سره یې د ویزو په ګډون بېلابېل خدمات په ډراماتیک ډول راکم‌کړي.

مسکو ښایي د اړیکو د رغېدو د هڅو لړ کې لږترلږه خپل سفیر بېرته واشنګټن ته واستوي.

امریکا په روسیه کې د خپلو بندي وګړو د برخلیک موضوع هم راپورته کړې ده.

په دوی کې د سمندري ځواکونو پخوانی افسر ‹پاول وېلان› په ۲۰۱۸ کال کې تر نیول کېدو وروسته په جاسوسۍ محکوم شوی، خو هغه تل د جاسوسۍ تور رد کړی.

مسکو که څه هم په دې وروستیو کې د بندیانو تبادلې ته چمتووالی ښودلی، خو د دې تبادلې شرایط تر دې دمه د واشنګټن لپاره د منلو وړ نه دي ګرځېدلي.

په هره توګه دا هم ممکنه نه ښکاري چې ښاغلی پوتین په دې برخه کې کوم یو اړخیز سخاوتمندانه ګام پورته کړي.

**د لوېدیځ مخالفت**

د روسیې ولسمشر په دې وروستیو کې پر خپل دې دریځ ټینګار کړی، چې لوېدیځ ورسره له دښمنۍ ډک چلن کوي. هغه روانه میاشت سن پیټرزبورګ کې د اقتصادي فورم پر مهال ادعا وکړه، چې ګواکې امریکا غواړي د روسیې د پرمختګ «مخه ونیسي.»

پوتین تر دې څو ورځې وړاندې ګواښ کړی و چې د هر هغه بهرني یرغلګر «غاښونه به وباسي» چې غواړي روسیه «وداړي».

ښاغلی کورتونوف وایي: «روښانه ده، هغه پر دې باور دی چې امریکا یې داسې سیاله ده چې د روسیې ښېګڼه نه غواړي او فکر نه کوم چې دا لیدلوری به بدل شي.»

خو هغه په ورته وخت کې دا ټینګار هم کوي چې روسیه به ښایي وغواړي [له لوېدیځ سره یې د مخالفتونو] تودوخه یو یا دوه درجې راټیټه شي.

**د کرکېچ کمېدل**

ښاغلی کورتونوف وایي: «پوتین به د یوه منطقي سیاستوال په توګه دې ته لېوال واوسي چې خپل اړخ ته له دغو خصمانه اړیکو سره تړلي لګښتونه او خطرونه راکم کړي.»

په دوی کې اقتصادي بندیزونه هم دي. وروستیو بندیزونو د مالي مرستو راټولولو لپاره د روسیې د حکومت وړتیا محدوده کړې او د راتلونکو ګامونو اغېزه ښایي تر دې لا پراخه وي. دغه بندیزونه به په یوه داسې کال چې ټاکنې پکې پلان دي، د روسیې پر اقتصاد فشار لا ډېر کړي.

اندرې کورتونوف وایي: «د روسیې ولس نور د بهرني سیاست «ګټلو» ته چې اوس یې په کور دننه د مهمو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو ځای نیولی، اشتها نه لري. پوتین که هر څه غواړي، خو فکر نه کوم چې د کړکېچ له ډېرولو دې [په کور دننه] څه لاسته راوړي.»

**د مجبورۍ لکچر**

یو څه چې د ولادیمیر پوتین نه خوښېږي، خو د مجبورۍ له مخې یې په اړه وینا ته اړوځي، هغه د اپوزیسیون د مشر الکسي نوالني د قضیې په ګډون روسیه کې د بشري حقونو موضوع ده.

نوالني تېر کال له مسمومېت ژوندی ووت، خو اوس روسیه کې د زندان شپې سبا کوي.

تازه د مسکو یوې محکمې د نوالني پر سیاسي دفترونو او پر فساد ضد سازمان د «تونډلارۍ» په نوم بندیز لګولی دی.

په اسانه شونې وه چې دا پرېکړه د جینوا تر دې لیدنې وروسته وخت ته وځنډول شي، خو داسې ښکاري چې دا سکالو په خپل ذات کې یو مهم پیغام لري او هغه دا چې پوتین د کورنیو مخالفینو ځپلو ته دوام ورکوي او دا په امریکا پورې هېڅ اړه نه لري.

اغلې شېوڅوا وړاندوینه کوي چې «بایډن به د نوالني او بشري حقونو په تړاو خپلې ببولالې وایي، بیا به پوتین هم ورته ببولالې ووایي چې امریکا کې هم وضعیت همداسې دی.»

خو هغه زیاتوي: «د دې لیدنې د تر سره کېدو واقعیت په دې مانا دی چې دوی به د بشري حقونو پیلامې پسې اصلي موضوعاتو ته ولاړ شي او هغه دا دي چې: راځئ د کړکېچ کمولو لپاره یو څه وکړو.»

# د جګړو شدت او تکتیکي شاتګونه؛

## وکیلان: د امنیتي ادارو د کمزورې مدیریت له کبله پراخې سیمې د طالبانو لاس ته لوېدلي



په هېواد کې د جګړو او ناامنیو له شدت سره جوخت د ولسي جرګې غړي او عام افغانان امنیتي ادارې د روان وضعیت په مهارولو کې ناکامې بولي او ټینګار کوي چې د یادو ادارو د کمزوري مدیریت له کبله ورځ تر بلې پراخې سیمې د طالبانو لاس ته لوېږي.

د ولسي جرګې غړی عارف رحماني زیاتوي: «طالبان نه دي پیاوړي شوي، بلکې په امنیتي ادارو کې کمزوری مدیریت د دې سبب شوی چې له بده مرغه موږ د ډېرو پوستو، نظامي بېسونو او ولسوالیو د سقوط شاهدان اوسو».

د یادې جرګې بل غړی ابدال الله محمدي وایي چې روان حساس وضعیت ته په کتو، په مهمو امنیتي ادارو کې باید د سرپرستۍ فرهنګ پای ته ورسول شي او په یادو ادارو کې دې مسلکي او وړ کسان پر دندو وګومارل شي. نوموړی زیاتوي: « د دفاع وزیر اوسمهال په هېواد کې نشته، د کورنیو چارو وزیر هم سرپرست دی، خو موږ ډېر داسې کادرونه لرو چې د دغه هېواد امنیت تامین کړي، په داسې حساسو شرایطو کې دې ولسمشر په امنیتي ادارو کې وړ او په کار پوه کسان وګوماري».

بلخوا د یادې جرګې ځینې غړي بیا پر امریکا هم نیوکه کوي، چې له افغانستان سره له شوي امنیتي تړون څخه په پرله پسې ډول سرغړونه کوي. د دوی په خبره، امریکا له افغانستان سره په لاسلیک شوي تړون کې ژمنه کړې وه چې تر ۲۰۲۴ز کال پورې به له افغان ځواکونو سره هر اړخیزې مرستې کوي، خو د دوی په خبره، له افغانستان څخه په غیرمسووولانه توګه د ټولو امریکایي ځواکونو په وتلو سره به له افغان پوځ سره د دوی مرستې هم د پام وړ راکمې شي او دا له امنیتي تړون څخه ښکاره سرغړونه ده.

د دې جرګې غړی رمضان بشردوست زیاتوي: «له بده مرغه امریکا په یو اړخیزه توګه امنیتي تړون نقض کوي او دا د دې ښکارندوي کوي چې امریکا څومره پر خپلو ژمنو ولاړه ده».

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د هېواد په ګڼو ولایتونو کې جګړې شدیدې شوي او وسله وال طالبان ادعا کوي چې په تېرو ۴۰ ورځو کې یې له ۳۰ ډېر ولسوالۍ نیولې دي، خو ملي دفاع وزارت بیا د طالبانو دغه ادعا نه مني او وایي چې امنیتي ځواکونو له ځینو سیمو څخه تاکتیکي شاتګ کړی او د نوي امنیتي پلان له مخې به له لاسه وتلې سیمې بېرته تر خپل کنټرول لاندې راولي. د یاد وزارت ویاند روح الله احمدزی وایي: «په مخامخ جګړه کې د طالب ملا په کلکه ماته شوې او ځینې سیمې چې په دې وروستیو کې د دوی ولکې ته لوېدلي، دا د امنیتي ځواکونو د هغې برنامې یوه برخه ده چې له ځینو سیمو یې د مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره تاکتیکي شاتګ کړی، خو د نوي پلان له مخې به ټولې له لاسه وتلې سیمې بېرته زموږ تر کنټرول لاندې راشي.»

خو د نظامي چارو کارپوهان بیا وایي چې په ډېریو ولایتونو کې د تاکتیکي شاتګ تر نوم لاندې طالبانو ته د امنیتي پوستو او نظامي مرکزونو پرېښودل به روان وضعیت نور هم پېچلی او سخت کړي. د نظامي چارو کارپوه جنرال محمد ثمر سادات وایي: «تاکتیکي شاتګ دې ته نه وایي چې موږ خپل نظامي امکانات او وسایط دښمن ته پرېږدو او بیا ووایو چې دا تاکتیکي شاتګ و، دا په هېڅ ډول نه شي توجیه کېدلی، له دې کلیمې باید ناوړه ګټه پورته نه شي».


د ولسي جرګې غړي داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې په دې وروستیو کې د افغان سولې مذاکراتي پلاوی دوحې ته رسېدلی، خو له طالبانو سره د سولې رسمي خبرې لا هم نه دي پیل شوې.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ RAW,ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړن: د اکسوس د ژباړې بورډ

### اوومه برخه
### راتلونکې ته نظر





په متحد هند کې دوی یو ستر اقلیت و؛ له څه گواښونو سره مخامخ وو؟ آیا ددې وړ به وو، چې د خپل مقام په اړه یې خبرې اترې کړې وای؟ آن په عراق، بحرین او سویلي افریقا کې له لږه‌کیو سره ظلم نشي کېدلی. تجزیه یا درې ځایه کېدو گڼې ستونزې وزېږولې. بنگله دېش او کشمیر یې ښې بېلگې دي. اوس مو هېوادونه په دایمي جگړه کې کېوتي دي. که دا کار ونه کړي، نو دوی افغانستان کې له سولې یا د ایران د گازو له نللیکې گټه اخیستی شي.
ما د تهلکه مذاکراتو یادونه وکړه، چې په ۲۰۰۸ کال کې لندن کې ترسره شول او ما په کې گډون درلود. د دغو مذاکراتو مرستیال کوربه یو سېک و، چې رستورانت یې درلود، موږ ته یې ماښامنی راکړه او خپل ځای ته یې بوتلو. خورا ښه میلمه پالنه یې وکړه. زما په حضور کې یې یو ځل پوښتنه وکړه چې: «تاسې پاکستانیان ولې دا حقیقت نه منئ، چې جناح د کابینې له پلان سره توافق کړی و*.»)
هغه هڅه کوله، چې په دې توگه له متحد هند څخه د سرغړونو مخه ونیسي. په حقیقت کې کانگرېس، چې پاکستان یې رامنځته کړ، وېره درلوده چې دوام به ونه کړي «د جناج وېره».
خوشاله یم، چې د هند د وېشل کېدو پړه اوس هم د هند ملي کانگرېس ته راجع ده.
دولت: مولانا ابو الکلام هم په خپل کتاب «هند خپلواکي گټي» کې راخیستي، چې د پاکستان رامنځته کېدل یا تقسیم حتمي نه و. هغه ویلي، د تجزیې لپاره زموږ مشران پړه دي، ځکه له سره د جناح نظریه عادلانه نه وه. هغه دا افراطي گام نه پورته کاوه، خو کانگرېس له توند دریځه کار واخیست.
سېنها: پاکستانی تاریخپوهه عایشه جلال وایي، جناح د خپلو خلکو د غړ پورته کولو یوازینی مرجع وه او هڅه یې کوله هغوی ته په هند کې دننه د امکان تر حده ډېر څه ترلاسه کړي.
دورانی: تجزیې ډېرې ستونزې وزېږولې، خو اوس دا کار شونی نه دی، چې پولې ونړوو او له سره یو متحد هند رامنځته کړو. پاکستانیان اوس له خپلواکۍ خوند اخلي؛ په متحد هند کې به ښایي ترلي نه وي، خو په ښکاره له خپلواکۍ داسې خوند نشي اخیستی. تاریخ نشئ راگرځولی.زما نظر دا دی، که موږ د ځینو خاصو موارد و په اړه، چې د پټو چینلونو له لارې یې د حل هڅې کوو پوهاوي ته ورسېږو، نو ورته رسېدای شو. له ۱۹۴۷ وړاندې وخت ته نشو گرځېدلی، خو په کراره کراره داسې وضعیت رامنځته کولی شو، چې دغو اندیښنو ته په کې رسېدگي وشي. په دې توگه د هغو کسانو هیلو ته هم رسېدگي کېدای شي چې وایي، «معلومه نه ده، بهارت ماتا باندې څه شوي دي.»
نو موږ د داسې وضعیت د رامنځته کېدو هڅه کوو، چې دغو ټولو اړتیاو ته، که په یو مخیزه ډول نه وي، نو په نسبي توگه یا تر ډېره، رسیدگي وشي. اوس دستې دا ممکنه نه ده، چې یو ائتلاف یا د اروپایي ټولنې په څېر ټولنه رامنځته کړئ، ځکه د هغوی خپلمنځي اړیکې هم اوس په شک کې دي، خو په اوسني پړاو کې د گډ پولي واحد یا پر هغو عملي قوانینو غور کېدای شي لکه د سویلي اسیا ټولنې، چې څنگه د سویلي اسیا کنفدراسیون رامنځته کړ. موږ لږ تر لږه د اروپایانو په څېر دا کار کولی شو. له دې باید خوښ او راضي اوسو، چې ځینې لانجې مو منظمېږي، چې پنجاب، بلوچستان، کشمیر، تامېل ناډو او نورو ته ترې گټه رسېږي. دا رسا فکر دی او موږ به حد اقل گډې اجماع ته ورسېږو.
موږ ښایي دومره ستر پرمختگ او پروژې ته چمتو نه اوسو، خو په کشمیر غونډې ځای کې د هند ـ پاکستان د سرحدي قیوداتو په نرمولو او نورو مسایلو پورې په نه ترلو یې پر اجزاو باید کار وکړو. پنځه یا لس کاله وروسته کولی شو، بل گام هم واخلو. ډېلي کېدای شي، ددې ټولنې پلازمینه وي. وسله وال ځواکونه مو سره مدغم وي. په پرتلیز ډول د ځواکونو شمېر کم کړو. په یوه سلیزه کې به د اکهنډ بهارت «ستر او متحد هند» ډېری غوښتنې پوره او شرایط برابر شوي وي.
**دوام لري...**

# ژاک درېدا

شفیق امیرزی

ژاک درېدا فرانسوي لیکوال، فیلسوف او ادبي نقاد و. هغه د ۱۹۳۰ کال د جولای په پنځلسمه په الجزایر کې زیږېدلی دی. مکمل نوم یې ویلیام دیل تموتي ژاک درېدا دی. په یوه متوسطه کورنۍ کې د الجزایر په البیار ښار کې وزیږېد. دی لس کلن و چې دویمه نړیواله جگړه الجزایر ته هم ورسېده. دی او نور یهودیان له ښوونځیو و ایستل شول، خو وروسته چې د متفقینو ځواکونه الجزایر ته راغلل، بېرته یهودي ښوونځي پیل شول او ده هم زده کړو ته مخه کړه. په ۱۹ کلنۍ کې فرانسې ته لاړ او دلته یې د پوهنتون لپاره د تیارۍ دوره پیل کړه. غوښتل یې ځان پوهنتون ته تیار کړي او خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي. دی یو پیاوړی لیکوال و نظریاتو یې په ادبیاتو او فلسفه کې پېچلي خو مهم او د پام وړ دي.
درېدا د خپل ژوند پر مهال تر څلوېښتو ډېر کتابونه خپاره کړي دي. لسگونه مقالې یې لیکلې او خپرې کړې او دغه راز لسگونه ځله یې وېناوې کړې دي. تر ډېره یې وېناوې په علمي کنفرانسونو او غونډو کې تر سره کېدې. بلخوا د هغه ډېری مرکې هم د ارزښت وړ دي او لوستونکي لري. درېدا پراخ فکر درلود، هغه د تېرې فلسفې او نوو مدرنو فلسفي نظریاتو په اړه مطالعه لرله او تر ډېره یې نوې خبرې کولې. پر ده یوه نیوکه دا ده چې ډېرې پېچلې خبرې یې کړې دي، یو وخت یوه خبریال پوښتنه ترې وکړه چې خلک دې د متونو پر پېچلتیا نقد کوي. یا داسې وایي چې خبرې یې خورا پېچلې دي د چا سر نه ورباندې خلاصېږي. ده به ویل عجیبه ده، ما چې څه ویلي ټولې هغه پوښتنې دي چې خلک یې په فکر کې لري. غواړي مطرح یې کړي، دا به د نه منلو خبره وي چې څوک د یوه ډاکټر او انجنیر په مخففو خبرو پوهېږي، خو په هغو علمي مسایلو نه پوهېږي چې د دوی د ذهن پوښتنې ځوابوي او د دوی د ژوند پر اړوندو مسایلو بحثونه کوي. درېدا تر ډېره په انساني یا بشري علومو کې د پام وړ ځای خپل کړی دی او گټور نظریات لري. په فلسفه، ادبیاتو، حقوقو، انسان پېژندنې، تاریخ لیکنې، ژبپوهنې، ټولنپوهنې، ارواپوهنې او سیاستپوهنې په برخه کې یې اثار پرې اېښي دي.
د درېدا اثارو په بېلو برخو کې پر اکاډمیکو چاپېریالونو اغېز درلود. په ټوله امریکا، اروپا، جنوبي امریکا او نورو هېوادونو کې په بېلو بحثونو کې د ده اثار د استفادې وړ دي. تر ډېره د انسان پېژندنې، معرفت پوهنې، اخلاقو، ښکلاپوهنې، د ژبې د فلسفې او نورو موارد و په برخه کې لا هم استادان او پروفیسوران د ده نقلونه لېږدوي. د ده تر ټولو ډېر او د پام وړ اغېز په ادبیاتو او فلسفه کې دی. په دې ده پسې ویل کېدل چې تر هر څه ډېر یې له ادبیاتو سره مینه لرله، خو فلسفه یې په مسلکي توگه لوستې وه. په ادبیاتو کې یې ځکه د لیکوالانو او پوهانو پام ځان ته اړولی دی، چې هغه د ژبپوهنې له مطالعې او تحلیل سره ډېره مینه لرله. ده د ژبپوهنې او ژبنۍ فلسفې په اړه خورا ډېر معلومات لرل او د ادبیاتو په اړه یې تر ځان د ډېرو پخوانیو لیکوالانو او نظر خاوندانو مفکورې نقد کړې دي.
د درېدا ماشومتوب په الجزایر کې پیل شو. دا سیمې د نړیوالو او سیمه ییزو جگړو شاهدې وې او د لږکیو پر وړاندې تبعیضي چلند پکې کېده. دی د خپلې کورنۍ له پنځو اولادونو دریم یې و. ښوونځی یې پیل کړ، خو د یهودي ضد ځواکونو له لوري یهودي ماشومان د درېدا په گډون له ښوونځیو و ایستل شول. درېدا پوره یو کال په پټه په ځینو ځایونو کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکوله. تر دې چې یو کال وروسته د متفقینو ځواکونو د بېځایه شوو وگړو ښوونځي جوړ کړل او ده ته هم ښوونځي ته د تگ اجازه ورکړل شوه. په نوي زلمیتوب کې یې د فلسفې او ادبیاتو د مطالعې شوق درلود. سپورت یې هم کاوه، د ښوونځي پر مهال یې هڅه کوله چې د فوټبال ښه لوبغاړی شي. بیا یې دا مینه ډېره شوه او غوښتل یې په نړیواله کچه په یوه حرفه یي او مسلکي فوټبالر بدل شي. دا مینه یې د عمر تر پایه ورسره وه او ډېر وخت به یې د فوټبال او سنوکر په لوبو کې برخه اخیسته.
په ادبیاتو او فلسفه کې یې بیا د نوې ځوانۍ پر مهال د روسو، نیچه او نورو اثار ولوستل.
په ۱۹۴۹ کال کې چې کله له الجزایر فرانسې ته ځي، نو په ژوند کې یې تحولات راځي. له یوې خوا دلته پوهنتون ته د داخلېدو تیاری نیسي او له بلې خوا د فلسفې په برخه کې له خپل نوي استاد (tienne Borne) سره معرفي کېږي. له همدې استاد بیا د فلسفې زده کړه کوي او د ادبیاتو او فلسفې په برخه کې د نوو معلوماتو او نظریاتو څښتن کېږي. درېدا په فرانسه کې له نورو مشهورو علمي څېرو سره هم اشنا شو. خپله ماسټري یې د فلسفې په برخه کې بشپړه کړه. بیا په یوه رقابتي ازمون کې بریالی شو چې هاروارډ پوهنتون ته لاړ وموميي. هلته یې د خپلې دوکتورا زده کړو ته مخه کړه، په بوستون کې له یوې اروا‌پوهې سره اشنا شو او واده یې وکړ. مارگریت او درېدا د عمر تر پایه د یو بل تر څنگ وو. کله چې د الجزایر د ازادۍ لپاره جگړه پیل شوه، نو ده پوځي خدمت تر سره نه کړ، پر ځای یې د سرتېرو او پوځي کارکوونکو ماشومانو ته د تدریس مسوولیت واخیست.
تر جگړې وروسته له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۴ کال پورې درېدا په سوربن پوهنتون کې د فلسفې په تدریس پیل وکړ. دی په دې پوهنتون کې د سوزان باکلارد اسیستانت و او همدا راز یې د هغه مهال د فلسفې له تکړه استادانو لکه کانگوهیلم او ژان وال سره نږدې علمي اړیکې لرلې. په ۱۹۶۳ کال کې یې له مارگریت لومړنی بچی وشو او په ۱۹۶۴ کال کې یې د خپلو استادانو په مشوره په لا ډېرو برخو کې په تدریس پیل وکړ او نورو پوهنتونو ته هم لاړ. ده تر ۱۹۸۴ کال پورې په اي ان ایس کې د تدریس څوکۍ درلوده او د فلسفې استاد و. ده په همدې وخت کې د ادبي او فلسفي نظریاتو له تیورسنانو سره اړیکې پیدا کړې او پوره اووه کاله یې له دوی سره پر مهمو ادبي مسایلو نظرونه تبادله کړل.
ژاک درېدا دا مهال په فرانسه او خپله شاوخوا کې ښه مشهور شوی و، خو نړیوال شهرت ته هغه وخت ورسېد چې په جان هاپکینز پوهنتون کې یې د بې رغښته کولو یا ډیکانسټرکشن په اړه خپله وینا یوې لویې علمي غونډې ته واوروله. ده د علایمو او بې رغښته کولو په اړه په ۱۹۶۶ کال کې خپله دغه وینا واوروله. په همدې غونډه کې له ژاک لاکان او پاول دومن سره گوري چې وروسته دغه معرفت د ادبي او فلسفي نظریاتو تبادلې او بحث ته لار پرانیزي. په ۱۹۶۷ کال کې د درېدا دویم زوی هم وزیږېد او په همدې کال کې یې د لومړي ځل لپاره درې مهم کتابونه هم له چاپ راووتل.
په ۱۹۸۰ کال کې د مهمو کارونو د تر سره کولو له امله د کلمبیا پوهنتون هغه ته افتخاري دوکتورا ورکړه. همدا راز یې په پاریس پوهنتون کې هم د خپلې دوکتورا دوره بشپړه کړې وه او له خپلې لیکلې مقالې یې په بریا دفاع وکړه. وروسته یې د ډیزرټېشن انگلیسي ترجمه د لیکنیو علایمو تر عنوان لاندې په ۱۹۸۰ کال کې په انگلیسي ژبه خپره شوه.
درېدا تر ډېره ځان ته تاریخ لیکوال وایي. ده په پراخه پیمانه د غرب د دودیزې فلسفي فرضیات او غربي فرهنگ له پوښتنې سره مخ کړل. د گڼو موارد و په اړه یې پوښتنې کولې، داسې پوښتنې چې د فرهنگ د اصلاح او غنا لپاره مهمې وې. ده د بحثونو او نظرونو هغه بهیرونه هم له پوښتنې سره مخ کړل، چې په دودیزه توگه او له نوښت پرته یې په تېرو پنځول شوو اثارو شخوند واهه. هغه په پوهنتونو کې هم د تغیر او دیموکراتیک کولو پلوی و او دا یې غوښتنه وه چې بحثونه باید ازاد او له محدودیتونو پرته تر سره شي. ده د غرب په فرهنگ، ادبیاتو او فلسفه کې خپلې تگلارې او نظریې ته بې رغښته کول یا ډیکانسټرکشن اصطلاح وکاروله. د ده په خبره، ډېر مسایل لا ډېرو سپړلو ته اړتیا لري، نو دا به ښه نه وي چې په پخوانیو جوړو شوو چوکاټونو قناعت وکړو او هر څه ته له لاس تر زنې ناست وو.
ژاک درېدا له اپلاتون تر روسو پورې بیا د هایدگر تر استدلالونو پورې د غربي فلسفې ټول اثار په دقت او مفصله توگه ولوستل. دی وایي، د غرب فلسفه ځینې داسې مهمې برخې لري چې په بنسټیزه توگه پکې منل شوې دي او متافیزیکي جوړښت لري. په دې مانا چې د انسان په حقیقي ژوند کې هېڅ درد نه شي دوا کولی، خو د غرب د فلسفې لارویان کلک ورپورې نښتي دي او دفاع ترې کوي. د درېدا په خبره، د بې رغښته کولو پر مټ او د خپلې لارې په مرسته دی هڅه کوي، دغه رامنځ ته شوي چوکاټونه چې له حقیقي ژوند سره سر نه خوري او متافیزیکي ځانگړنې لري راښکاره او تضعیف کړي. په دې مانا چې ورو ورو یې له دودیزې فلسفې لرې کړي او فلسفي علوم په ژوند کې له حقیقي مسایلو سره همغږي کړي.
درېدا د متونو د لوست او لیک په اړه هم ځانگړې نظریات لرل. هغه د یونان او غرب د فلسفې ټول پخواني متون تر نظر تېر کړي وو او له همدې امله یې د متن پوهنې په اړه هم نظریات لرل. ده به ویل هېڅ شی له متن بهر نه دي، په دې مانا چې هر څه په متن کې راتللی شي او هغه څه چې موږ یې لولو، پخپله په متن کې نه دي، بلکې تر څنگ یې نور مسایل هم شته. د ده په خبره، موږ یوازې هغه کلمات لولو چې په کتاب کې دي، یا په متن کې دي، خو دغه کلمات په خپل روح کې له نورو کلماتو، دودونو او فرهنگ سره ژورې اړیکې لري چې سپړنې ته اړتیا لري.
ژاک درېدا د لیکوالۍ او متونو په اړه هم ځانگړې نظریات لرل. د ده په خبره، متن باید داسې ولیکل شي چې لوستونکی ورباندې پوه شي. دی وایي، ان که لیکوال پخپله خپل متون نه شوی تحلیل کولی، نو باید د دې وړ وي چې لوستونکی یې تحلیل کړي. هغه په دې باور و چې لیکوالان یو ځانگړی رواني کشمکش لري او له ځانگړې وضعیت سره مخ وي، چې ډېر وخت څه لیکي خو وروسته لوستونکي په متونو کې د څېړنې پر مټ په هغه کې لار پیدا کوي او په دې ځان پوهوي چې لیکوال څه غوښتل.
د نړۍ په ادبیاتو کې دغه مشهوره څېره د لسگونو مقالو، لیکنو او کتابونو تر خپرولو وروسته په ۲۰۰۴ کال کې د ۷۴ کلونو په عمر ومړ. هغه تر شا ډېر مهم اثار پرې اېښي دي چې د ادبیاتو، فلسفې، سیاستپوهنې او نورو علومو په برخه کې په تیورکي مسایلو کې کارول کېږي او ځانگړی ځای لري. پښتو ته یې تر اوسه کتابونه نه دي ژباړل شوي، خو د ځینو استادانو په لیکنو او اثارو کې یې له نظریاتو استفاده شوې ده.



## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,٦۵ |
| € | ۹٤,٦۰ |
| Rp. | ٤۹۸ |
| ₹ | ۱۰٦۵ |
| ¥ | ۱۱,٦۰ |
| £ | ۱۰۹ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦


maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# څنګه موخه وټاکو او ورته ورسېږو؟

ژباړه: احسان الله کریمي

ایا پوهېږئ چې د نړۍ پنځه سلنه خلک بریالي دي؟ ولې؟
شاید وواياست چې دا زموږ/هغوی په تقدیر کې لیکل شوي دي او باید همداسې ژوند وکړو.
اما په دې باید وپوهېږئ چې داسې نه ده، د نړۍ ټولو وګړو د ژوند له څو مهمو قانونو څخه کار اخیستی او بریالي شوي دي، تاسو هم کولای شی دا قوانین زده او عملي کړئ او خپلو ټولو موخو ته ورسېږئ. دا کار ستونزمن نه دی، هغوی چې توانېدلي هغو سترو بریاوو ته ورسېږي چې موږ ته خوب ښکاري، نو بیا تاسو هم کولای شی، زموږ نړۍ د قوانینو نړۍ ده.
د ډېرېورۍ په څېر که د قوانینو خلاف کړنه تر سره کړی، خپلې موخې ته نشی رسېدای او ان جریمه کېږی هم، داسې و انګېرئ چې غواړی یو ښه خوراک چمتو کړی، باید د هغه خوراک د پخولو له قوانینو سره باید بلدتیا ولری چې څومره تودوخې او څومره دوا ته اړتیا لري.
که د خوراک د پخولو له اصولو سره بلدتیا پیدا کړو، وبه ګورو چې کولای شو یو ښه خوند لرونکی خوراک چمتو کړو، مهمه نه ده چې ښځینه یاست یا نارینه یا ځوان او یا هم عمر خوړلی؛ خو قوانین درته ښیي چې بریا هم د یو ښه او ښه خوند لرونکي خوراک په شان ده.
د کور، موټر او مناسبې دندې لرل هېڅ د خوب لیدل نه دي، شاید تر دې ډېر فکر وکړی چې له ژونده تر دې ډېره ګټه واخلی او خپلو ټولو موخو ته ورسېږی، ځینې خلک فکر کوي چې خدای له ځینو بندګانو سره مینه لري او مرسته ورسره کوي او ځینې خلک بیا په دې باور دي، چې موخو ته رسېدل یو چانس دی، دا ډېره جالبه ده او موږ باید په دې پوه شو چې چانس موږ رامنځته کوو.
د چانس په نوم کوم څه نشته، که تاسو بوره له اوبو سره ګډه کړی، خوږېږي چې دا یو قانون دی چانس نه او که تاسو قوانین پلي کړی او د بریا په اصولو وپوهېږی، حتماً بریالي کېږئ او دا هم چانس نه دی، دا د نړۍ د هستۍ قانون دی او موږ ته جواب راکوي.




راځئ چې په ګډه تېرو میاشتو ته وګرځو، تر هغه چې نوي کال ته ورسیږو، هغو ورځو ته چې راتلونکي ته مو تمه او امید درلود، هغو ورځو کې مو د خپل ژوند لپاره موخې لرلې او راتلونکي ته هیله مند وو.
اوس نو هغه پلانونه چې په هغو ورځو کې مو د ځان لپاره ټاکلي وو، له هغه څه سره پرتله کړئ چې وروسته مو سرته رسولي وي.
څومره خپلو موخو ته ژمن یاست؟ ایا تر اوسه مو د خپلو موخو لپاره څه کړي؟ له هغه را وروسته چې موخې مو ټاکلې دي، یوځل مو یې د لاسته راوړلو او هغه ته د نږدې کېدو ارزونه له ځان سره کړې ده؟
موږ درته په دې مقاله کې هغه لارې چارې ښیو، چې پر مټ یې کولای شی خپلو موخو ته ورسېږی:

**۱ـ د موخې تر ټاکلو د هغه څارل مهم دي**

ستونزه دا نه ده چې تاسې د دې وړتیا نه لری چې موخو ته مو ونه ورسیږی، ستونزه دا ده چې په لومړیو کې مو د موخو ټاکلو لاره غلته ده.
اوس پوښتنه دا ده چې ولې نه شو کولای چې خپلو موخو ته ورسېږو؟ ولې نه شو کولای هغه موخې چې د ځان لپاره مو ټاکلې دي، پر حقیقت بدلې کړو، موږ یې درته لاره ښیو:
الف- لویې موخې په وړو هغو باندې نه تقسیم کوو، اوس دلته معلومه شوه چې ستونزه په دې کې ده چې موږ او تاسو په هغه څه عمل نه کوو، چې په ذهن کې مو دي. باید وړې موخې د ځان لپاره وټاکو څو وکولای شو په کم وخت کې یې تر لاسه کړو.
د هدف په ټاکلو کې تر ټولو مهم اصل دا دی چې په ژوند کې باید کوچنۍ او لویې موخې سره بېلې کړو، مهمه خبره دا ده چې وړې موخې د ځان لپاره وټاکو څو وکولای شو په کم وخت کې هغه تر لاسه کړو. د کوچنیو هدفونو په تر لاسه کولو سره موږ کولای شو لویو هغو ته ورسیږو.
اوس دلته خبره دا ده چې ولې باید لویې موخې له کوچنیو هغو بېلې کړو؟
د دې خبرې ریښې د موخو په اړه زموږ په ذهن کې له شته تصور سره تړلې دي، چې موږ د هغه په اړه څنګه فکر کوو.
کله چې موخه لویه او ورته رسېدل زموږ له وسه وتلې خبره وي، هغه وخت کې موږ له خپلو موخو په شا کېږو، چې دا بیا زموږ پر روحیه ښه اغېز نه کوي. که مو موخه لویه وي او په کم وخت کې نه شو ورته رسېدای، باید هغه په کوچنیو برخو وویشو او بیا همدا برخې یو په بل پسې تعقیب کړو.
کله مو چې موخې منظمې او په چوکاټ کې نغښتې نه وي، هېڅکله نه شو کولای ورته ورسیږو. په لومړي ځل لویې موخې ته رسېدل داسې مثال لري لکه یو تیارې خونې ته چې ننوځو. په لومړیو کې په تیاره خونه کې هېڅ نه شو لیدلی، خو که لومړی موږ ورته یو رڼا جوړه کړو او وروسته خونې ته داخل شو، په دې وخت کې هر څه راته ښکارېږي.

**۲ـ موخو ته د رسېدو لپاره نورې لارې ولټوئ!**

یو څه په یاد ولرئ چې تل موخو ته د رسېدو لپاره نورې لارې هم شته. که تاسو فکر کوی چې د یوه کار تر سره کولو لپاره همدا یوه لاره ده، نو تېروتنه به مو کړې وي. فکر وکړئ چې د خپل شرکت لپاره مو یو با استعداده او په لوړه تنخوا مشاور استخدام کړی، څو شرکت مو لا پراختیا وکړي، مشاور له تاسو څخه ځینې پوښتنې کوي، هغه له تاسو څخه پوښتي چې اوسمهال کوم کارونه او په څه ډول تر سره کوی؟ ایا موخې ته د رسېدو لپاره پرته له دې لارې کومه بله لاره هم شته؟
هغه له تاسو څخه پوښتي چې هغه موخې مو روښانه کړئ چې د ټول شرکت او یا هم د کمپنۍ د ځینو برخو لپاره مو ټاکلې دي؛ څکه دغه ډول پوښتنې کولی شي ستاسو د کمپنۍ د لار پراختیا لپاره مهمې وي. هڅه وکړئ چې د ځان لپاره خپله مشاور شی، له ځان څخه خپلې پوښتنې په سره سینه وکړئ، له هغه وروسته ورته د حل مناسبې لارې ولټوئ.

**۳- موخې ته د رسېدو لپاره باید دوه کارونه نور تر سره کړو**

پورته مو موخې ته د رسېدو په اړه معلومات تر لاسه کړل، نو همدا اوس له ځان سره یو قلم او کتابچه را واخلئ او خپلې ټولې وړې او لویې هغه موخې مو پکی ولیکئ، چې په ژوند کې یې هیله لری او وروسته له ځان سره دا وواياست چې هره ورځ باید د ټاکل شویو موخو لپاره لږترلږه پنځه سلنه کار وکړی. زه باوري یم چې تاسو به خپلو ټولو موخو ته رسیږی او بله مهمه خبر دا ده چې تاسو پر ځان باور ولری. پر ځان باور مو هرې هغې هیلې او موخې ته رسوي چې په ژوند کې مو ټاکلي وي.
موخو ته په رسېدو کې به ممکن له ستونزو سره مخ شی، ډېری داسې کسان دي چې یوه موخه یې د ځان لپاره ټاکلې وي؛ خو له یوې ستونزې سره دی له ټولې موخې تېرېږي. که تاسې هم د موخو تر لاسه کولو په وخت له کومې ستونزې سره مخ کېږی، ښه ده چې له موخې مو تېر نه شی؛ بلکې د هغه ستونزې د له منځه وړلو او حل په اړه فکر وکړئ او له یوې بلې لارې خپلې موخې ته نږدې شئ.

# بایډن: امریکا د اروپا، ترکیې او کاناډا د دفاع په موخه ځانګړی مکلفیت لري

د امریکا ولسمشر جو بایډن د ناټو مشرانو ته ویلي چې د اروپا، ترکیې او کاناډا دفاع د متحده ایالاتو ځانګړی مکلفیت دی.
د بایډن دغه وینا د امریکا د پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ له دریځ څخه یو څرګند بدلون دی چې غوښتل یې امریکا له دغه پوځي تړون څخه وباسي. په انګلستان کې د جي-۷ هېوادونو له غونډې وروسته بروکسل ته له رسېدو وروسته بایډن یو ځل بیا په خپلو غربي متحدینو غږ وکړ، چې د متحده ایالتونو د پالیسۍ ملاتړ وکړي،، تر څو د روسیې د یرغل پر وړاندې په متحده توګه چلند وشي.
بایډن د شمالي اتلانتیک د تړون د ډله ییزې دفاع ژمنې ته په اشارې وویل: «پنځمه ماده یو ځانګړی مکلفیت دی، زه غواړم اروپا پوهه شي چې د امریکا متحده ایالات دلته دي».
د ناټو تړون له منځني ختیځ څخه د وتلو لپاره د ګډ دریځ په غوره کولو بوخت دي او همداشان هڅه کوي چې د سایبري بریدونو او نورو ګواښونو پر وړاندې په ګډه عمل وکړي.
د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ د تېرې ورځې له غونډې مخکې وویل چې له بالتیک څخه تر افریقا پورې د ځینو هېوادونو مخ په ودې پوځي شتون په دې مانا دی، چې ناټو باید چمتو اوسي.
هغه زیاته کړې: «زموږ سیالان رانږدې کېږي، موږ هغوی په سایبري فضا کې وینو، په٤ افریقا کې یې وینو، خو موږ همداشان وینو چې دوی په خپلو مهمو زیربنایي تاسیساتو کې ستره پانګونه کوي.» د نوموړي اشاره بندرونو او ارتباطي شبکو کې د چین پانګونې ته وه.



ډیپلوماتان وایي، ناټو به په خپله وروستۍ اعلامیه کې روسیه دښمن وګڼي، خو سټولټنبرګ وایي، چین زموږ دښمن نه دی، خو په اړه یې اندېښنه شته او روسیه په داسې حال کې د شمالي اتلانتیک د تړون امنیت ته یو سیستماتیک ګواښ دی، چې زموږ له نورو سیالانو سره ګډ پوځي تمرینونه کوي، سایبري بریدونه کوي او خپل سمندري ځواکونه په بېړه غښتلي کوي.
سټولټنبرګ خبریالانو ته ویلي: «موږ یوې بلې سړې جګړې ته نه ځو او چین زمونږ مخالف نه دی، زموږ دښمن نه دی...خو اړ یو چې د یو تړون په توګه د هغو ګواښونو په هکله په ګډه عمل وکړو چې د روسیې له لورې زموږ امنیت ته متوجه دي.»

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه‌شنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۲۵مه | د ۲۰۲۱ د جون ۱۵مه | ۷۳۳مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۳ | ٤۰ | ۳۳ | ٤۳ | ۳۲ |
| ۱۳ | ۱۷ | ۲۲ | ۲۳ | ۲۱ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰۴:۴۰ | ماسپښین ۱۱:۵۴ | مازیګر ۰۴:۵٦ | ماښام ۰۷:۰۸ | ماخوستن ۰۸:۵۴


## نړۍ



# بایډن: امریکا د اروپا، ترکیې او کاناډا د دفاع په موخه ځانګړې مکلفیت لري

۵

## امریکا: په منځني ختیځ کې مو د سرتېرو شمېر ۴۰زرو ته راکم کړی



د امریکا د مرکزي قوماندانۍ مشر جنرال فرانک مکنزي وایي چې په منځني ختیځ کې یې د عسکرو شمېر ۴۰ زرو ته راکم شوی دی.

مکنزي ویلي چې اوس په منځني ختیځ کې د امریکایي ځواکونو شمېر له ۴۰ زرو راکم شوی چې د نوموړي په خبره، نږدې ۱۸ میاشتې مخکې دا شمېر له ٦۰ تر ۸۰ زرو ته رسېده.

مکنزي داسې مهال په منځني ختیځ کې د امریکایي عسکرو د شمېر د کمولو خبره کوي چې امریکا په سیمه کې له ځینو نورو هېوادونو له خوا له ننګونو سره مخ ده.

د امریکا ولسمشر جوبایډن اوسمهال په اروپا کې دی. هغه په بروکسل کې پر خپلو لوېدیځو متحدینو غږ کړی، چې د روسیې د یرغل په اړه د امریکا د متحدو ایالتونو د تګلارې ننګه وکړي چې پر وړاندې یې متحد عمل وشي.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې سبا به د امریکا ولسمشر جوبایډن د روسیې له ولسمشر ویلادیمیرپوتین سره هم ووینې. بایډن پلان لري چې خپل روسي سیال ته د امریکا د متحدو ایالتونو ځینې شکایتونه ورياد کړي، چې په تېرو ټاکنو کې د روسیې مداخله او انټرنېټي بریدونه پکې شامل دي. جوبایډن د امریکا د ولسمشر په توګه په لومړي ځل په رسمي سفر تللی دی. بایډن څه موده مخکې ویلي وو، چې خپل روسي سیال ته به مخامخ ووایي چې واشنګټن به مسکو پرې نه ږدي چې له بشري حقونو څخه سرغړونه وکړي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر له ۱۷٦ میلیونه کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۷٦ میلیونه او ۸۳۵ زره او ۹۴۴ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دری میلیونه او ۸۲۱زره او ۹۲۸ کسان مړه شوي او نږدې ۱٦۱ میلیونو ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۳۲۱زره او ۷۲۳ ته رسېدلي او ٦۱۵ زره او ٦۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۲۹ میلیونه او ۵۴۸ زره او ۱۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۷ میلیونه او ۴۱۳ زره او ۹۹٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۷۴۰ زره او ٦٦۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د پنځه میلیونه او ۳۳۰ زره او ۴۴۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

روسیه، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ناتو: بعد از مأموریت نظامی نیز در کنار نیروهای امنیتی افغانستان می‌ایستیم



نشست سران کشورهای عضو سازمان پیمان اتلانتیک شمالی یا ناتو در بروکسل برگزار شد. در بیانیه مشترکی که از این نشست صادر شده است، به مسئله افغانستان نیز پرداخته شده است.

در بیانیه آمده است که مأموریت نظامی ناتو در افغانستان پایان یافته است، اما مأموریت غیرنظامی آن در افغانستان حفظ خواهد شد. سران ناتو تأکید کرده‌اند که در کنار افغانستان، مردم، نهادها و نیروهای امنیتی این کشور می‌ایستند و از دست‌آوردهای ۲۰ سال گذشته حمایت می کنند.

به همین ترتیب، در بیانیه سران ناتو گفته شده است که برای حضور پایدار دیپلماتیک و اهمیت ارتباط افغانستان با جهان، بودجه انتقالی را برای اطمینان از ادامه کار میدان هوایی بین‌المللی حامد کرزی تأمین خواهد کرد.


در بیانیه آمده است که مأموریت نظامی ناتو در افغانستان پس از ۲۰ سال در حال پایان یافتن است، اما اکنون افغان‌ها خود مسوولیت کامل امنیت کشورشان را بر عهده می گیرند.

سران ناتو تأکید کرده‌اند که خروج از افغانستان به معنای پایان دادن به رابطه با این کشور نیست و فصل جدیدی در روابط افغانستان با اعضای ناتو گشوده خواهد شد.

در بیانیه آمده است که ناتو در کنار مردم افغانستان، نهادهای امنیتی ایستاده و نیروهای امنیتی افغان را تجهیز و حمایت می کند. سران ناتو گفته‌اند که به آموزش و پشتیبانی مالی نیروهای دفاع ملی و امنیتی افغانستان، از طریق صندوق اعتماد ارتش ملی، ادامه خواهند داد.

## ژوند

## د ګلکسي اېس۷ ټبلېټ ارزان بیه بڼه معرفي شوه



سامسُنګ کمپنۍ خپل د ګلکسي اېس۷ ټبلېټ ارزان بیه بڼه چې ګلکسي ټب اېس۷ اېف اي نومول شوې ده، خپلو مینه والو ته معرفي کړ. دغه ټبلېټ کې ۱۲,۴ انچه WQXGA ډوله مخ‌پاڼه ورکړل شوې چې اېس قلم هم لري. دغه ټبلېټ کې انډرایډ ۱۱ عامل سیستم ورکړل شوی او سامسُنګ ډېکس کاریال هم لري. ګلکسي ټب اېس۷ اېف اي به تور او نقره‌یي رنګونو کې خرڅلاو ته وړاندې شي او د ۴ ګېګابایټ رم لرونکې بڼې بیه یې ٦۴۰ یورو ټاکل شوې ده. سامسُنګ کمپنۍ به د دغه ټبلېټ ٦ ګېګابایټ رم لرونکې بڼه هم وړاندې کړي. دغه ټبلېټ کې همدا راز د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۷۵۰جي ډوله پروسېسر کارول شوی، چې له ۵جي ټکنالوژۍ څخه هم ملاتړ کوي. ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لري چې کاروونکي دغه وړتیا د میموري کارت له لارې یو ټېرابایټ ته لوړولی شي. شاتنۍ برخه کې ۸ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامره او مخکینۍ برخه کې ۵ مېګاپکسله سیلفي کامره هم لري. دغه ټبلېټ کې ۱۰۰۹۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې.

## د ګرمۍ په موسم کې د اړتیا وړ خواړه



د ګرمۍ په موسم کې باید هغو تازه او صافو خوړو ته ترجیح ورکړل شي، چې په کور کې تیارېږي او له هغو توکو باید ډډه وشي چې سره شوي وي یا بازاري وي. د خوراکي توکو کارپوهان هم لارښوونه کوي چې د ګرمۍ په ورځو کې تازه او ساده خواړه وکاروئ. روغتیایي کارپوهان وایي چې په ګرمۍ کې د مېوو او سبزیجاتو استعمال ډېر کړئ. د بېلګې په توګه: مڼه، زردالو، هندوانه، بادرنګ او نور. همدغه راز له تروشو خوړو څخه ځان وساتئ ځکه چې تروش خواړه د معدې تېزابیت ډېروي. دوی وایي چې په دې موسم کې هغو خوړو ته ډېره ترجیح ورکړئ، چې سوړ خاصیت لري. مستې یې ښه بېلګه ده چې هم سوړ خاصیت لري او هم د معدې ګټورې بکتریاوې ډېروي، ګرمښت یې کموي او د ګرمۍ په سبب د دانو مخنیوی کوي. سرې شیدې هم د معدې تودوخه او تېزابیت کموي او د شپې یې استعمال د ښه خوب سبب کېږي. د معدې د ګرمېدو سببونه له نا آرامۍ، د لوږې نه حس کول، په تشه ګېډه کانګې کول، سر ګرځېدل او نور دي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank